## سریزه

افغانستان د هغه هیوادونو څخه ګڼل کیږي چې ډیرې سیمې یې وچ او صحرايي اقلیم لري او د ټول مساحت دولس سلنه یې د کښت وړ ده. که چېرې د کرهنې او مالدارۍ په برخه کې نوښتونه رامنځته نه سي، د شته او اضافه کیدونکي نفوس لپاره غذایي امنیت او خوندیتوب په پراخه کچه د ستونزې سره مخ کیږي. د ستونزې د له منځه وړلو لپاره په کار ده چې کرنیز سکتور له عنعنوي حالت څخه و علمي حالت ته تغیر کړل سي ترڅو د یوې خوا په ځان بسیاینه رامنځته سي او د بله اړخه به د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې په پایښت لرونکي شکل پرمختګ سوی وي. په دې برخه کې اړینه ده چې په هیواد کې داسې یو ادرس شتون ولري چې نوموړو ستونزو ته د پای ټکی کېښودل سي، د هیواد له طبیعي سرچینو څخه په اعظمي توګه ګټه پورته کړي او د ستونزو د حل لپاره مناسبې لارې ولټوي. دغه ټولو موخو ته هغه وخت رسیدلای سو چې په هیواد کې علمي کادرونه، مسلکي اشخاص، مجهز لابراتوار، د کرنې او مالدارۍ په برخه کې عصري خدمات، د آفاتو او ناروغیو د کنترول او مخنیوي لپاره ملي مراکز شتون ولري، له نیکه مرغه دغه موخو ته د رسیدو لپاره د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت د پلان او پالیسی له مخې تصمیم نیول سوی چې د لوړو زده‌کړو ظرفیت د فوق‌لېسانس (ماسټري او دوکتورا) په برخه کې نور هم پیاوړی کړي.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون (اناستو) د هیواد په سطحه د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د یو ستر علمي او تخصصي مرکز په حیث فعالیت لري چې د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لاندې د لس کلن تائید سوي پلان له مخې یې د فوق لېسانس (ماسټري) برنامې د هند هیواد (India) د IARI او IVRI پوهنتونونو سره چې د ICAR تر چتر لاندې فعالیت لري، په مشترک ډول (Joint Degree Program) په حضوري او ځینو حالاتو کې یوه برخه په غیر حضوري/آنلاین (Online) بڼه مخته وړل کیږي. د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون (اناستو) د لوړو زده‌کړو (ماسټري او دوکتورا) په برخه کې د هیواد په داخل کې خدمات وړاندې کوي. په اناسټو پوهنتون کې د نباتي علومو، حیواني علومو، وترنري علوم، او کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځۍ شتون لري چې اوس 17 بیلابیلې څانګې په کې فعالیت لري. د پورته پوهنځیو او څانګو بر سیره د اړتیا په صورت کی د نورو پوهنځیو او څانګو د فعاله کولو لپاره د شرایطو په نظر کې نیولو سره د فعاله کیدو امکانات سته، اوسمهال په اناسټو پوهنتون کې د فوق لیسانس پنځه فعالي برنامې شتون لری چې تدریسي چاري یې په مشترک ډول جریان لري.

## د مشترکو فوق‌لېسانس (ماسټري او دوکتورا) علمي برنامو پېژندنه

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون (اناستو) د هیواد په سطحه هغه پوهنتون دی چې د کرهنې، مالدارۍ، کرنیز اقتصاد او وترنرۍ په بیلابیلو څانګو کې د لېسانس، ماسټرۍ او دوکتورا په کچه علمي کادري غړي او مسلکي اشخاص روزل کیږي او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کیږي.

د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ پر اساس د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لاندي د لس کلن تائید سوي پلان له مخې د فوق لېسانس (ماسټري او دوکتورا) دغه برنامې د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون (اناسټو) او د هند هیواد (India) د IARI او IVRI پوهنتونونو او په ټوله کې د ICAR سره په مشترک ډول په حضوري او غیرحضوري/آنلاین (Online) بڼه د تدریس، عملي، څېړنیزې او نورې اړونده چارې مخته وړل کیږي، د همدې جملې څخه څېړنیزې چارې په افغانستان کې د یاد سوي پوهنتونو سره په مشترک ډول مخته وړل کیږي، د هغه مضامینو تدریس چې په اناسټو پوهنتون کې واجد شرایط استاد و نه لري، د هند هېواد په همدغه پوهنتونونو او که هند ته تګ ممکن نه وي، په انلاین بڼه سرته رسیږي. دغه مشترکې برنامې ځینې مشخصې ځانګړتیاوې لري چې د افغانستان د داخلي پوهنتونونو فوق لېسانس برنامو لپاره د لوړو زده‌کړو وزارت د تائید سوي طرزالعملونو سره په ځینو برخو کې څه ناڅه توپیر او استثنأت لري.

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د فوق‌لیسانس (ماستري او دوکتورا) برنامو عمده هدف دا دی چې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې داسې متخصصین او څېړونکي وروزي چې د هېواد د کرنیز سکتور د پرمختګ او علمي ودې لپاره عملي ونډه واخلي، مهم هدفونه یې دا دي:

1. د ماستری او دوکتورا په کچه د علمي او مسلکي کادرونو روزنه
2. د بزگرانو د ښه تولید او عایداتو د زیاتوالی په موخه د اصلاح شویو تخمونو تکثیر او ترویجول
3. د څېړنو تر سره کولو په برخه کې د استادانو او محصلینو وړتیا او علمي ظرفیت لوړول.
4. د عصری تکنالوژی د استعمال په وسیله د کرنیزو محصولاتو د کیفیت او کمیت لوړول

## د اناستو پوهنتون او هند هېواد مشترکو فوق‌لېسانس علمي برنامو (Joint Degree Programs) مشخصې ځانګړتیاوې

- د اناستو پوهنتون او هند هیواد د فوق لیسانس برنامې د اناستو پوهنتون (ANASTU) او IARI او یا هم IVRI مشترکې د فوق لیسانس برنامې (Joint Degree Program) دي.
- د دې مشترکو برنامو ټول کارونه او فعالیتونه د هند هیواد، ICAR ادارې د IARI او یا هم IVRI پوهنتونونو سره په ګډه مخته وړل کیږي.
- دا برنامې د هغه مضامینو او عملي کړنو پر مهال چې د هند پوهنتونونو لخوا تدریسیږي په رسمي او نورو ټولو تدریسي او څېړنیزو چارو کې وروسته له رسمیاتو فعالیت کوي.
- د همدي مشترکو برنامو د تدریس چارې په موډلر سیستم (Modeler System) ترسره کیږی. هرکریډیټ 20 تدریسي ساعتونه (هر نظري کریډیټي ساعت 50 دقیقې وخت لري) په یوه اوونۍ کې نظري، عملي، او ساحوي تدریس 6.5 ساعتونه پر برکې نیسي چې څلور تدریسي ساعتونه تدریس کیږي. د نظري، عملي او ساحوي کریډیټ وخت د لوړوزده‌کړو وزارت د کریډیت سیستم په اساس چې په ترتیب سره 50، 100 او 150 دقیقې وخت په برکې نیسي عملي کیږي. همدارنګه، مدرس استاد او اړونده همکاران د اړتیا په وخت کولای سي د تدریس او عملي کار ټوله وختونه د ښه فعالیت او دکار د اجراء په موخه مدیریت کړي.
- په دې مشترکو برنامو کې د تائید سوي کریکولم هغه مضامین چې په اناستو پوهنتون کې یې واجدشرایط استاد موجود وي د مضمون تدریس چارې د داخلي پوهنتون (اناستو) د استاد په غاړه وي او هغه مضامین چې په هند کې تدریس کیږي، چارې یې د هندي استادانو لخوا مدیریت او ترسره کیږي. د انلاین او غیر حضوري مضامینو د تدریس پر مهال نظري تدریس د هند هیواد له خوا ترسره کیږي او د عملي او ساحوي کړنو برخه یې په اناستو پوهنتون کې یو همکار استاد (حداقل پوهنیار ماستر) لخوا مخته وړل کېږي، تر څو د محصلانو سره په عملي او ساحوي کارونو کې مرسته وکړي.
- د هند هیواد سره د هرې برنامې د حضوري او غیرحضوري تدریس کیدونکو مضامینو تدریسي چارې، تحقیقاتي چارې، ټولې ازموینې، د مضامینو مهال ویش او د نورو مربوطه چارو همږغي کول د پوهنتون د عمومی همږغی کونکي او د فوق لیسانس برنامې لرونکي همږغي کونکي لخوا تر سره کیږي.
- د مشترکو برنامو د محصلانو د څېړنیز اثر (تیزیس او ډیزرټېشن) لارښود استادان دوه کسان ټاکل کیږي چې یو واجد شرایط استاد د ماستري دورې لپاره حد اقل (ماستر استاد) او د دکتورا دورې لپاره حد اقل (دوکتور استاد) داخلي سوپروایزر ( Internal Supervisor) او بل هم د خارجي سوپروایزر (External Supervisor) په توګه ټاکل کېږي، چې داخلي سوپروایزر د اناستو پوهنتون څخه او خارجي سوپروایزر د هندي پوهنتون څخه ټاکل کیږي.
- دا چې د دې مشترکو برنامو ډیری عملي چارې او کارونه د همږغي له لارې د اناستو پوهنتون او IARI اویاهم IVRI پوهنتونونو لخوا په ګډه مخته وړل کیږي نو په همدې اساس د فارغو محصلانو لپاره یې وروستی د فراغت سند او د نمراتو ترانسکرېپت مشترک (Joint Degree) تیاریږي، او فارغو محصلانوته ورکول کیږي.

**په اناستو پوهنتون کې اوسمهال د فوق لیسانس (ماستري) پنځه فعالې برنامې جریان لری چې په بېلا بیلو پوهنځیو کې په لاندی توګه ذکر کیږی :**

1. **د نباتي علومو پوهنځي:**
   - د اګرانومي په څانګه کې د ماسترئ برنامه
   - د هارټیکلچر په څانګه کې د ماسترئ برنامه
   - د نبات ژغورني په څانګه کې د ماسترئ برنامه
2. **د حیواني علومو پوهنځي :**
   - د حیواناتو تولید او روزني په څانګه کې د ماسترئ برنامه
3. **د کرنیز اقتصاد او توسعه پوهنځي :**
   - د کرنیز اقتصاد په څانګه کې د ماسترئ برنامه

**د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژئ ملي پوهنتون د فوق لیسانس برنامو د بورډ غړي**

| ګڼه | نوم | دنده | دنده | ټیلیفون شمیره | برېښنا لیک |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | پوهنمل محبوب الله احمد | علمي مرستیال | د بورډ مشر | 0700312583 | mahboobullahahmadi957@gmail.com |
| 2 | پوهنمل دوکتور شریف الله شریفی | د څیړنو مرستیال | د بورډ غړی | 0700388502 | nsharifullah@gmail.com |
| 3 | پوهندوی دوکتور امین الله نور | د وترنری پوهنځي استاد | د بورډ غړی | 0700188716 | Aminullah.noor18@gamil.com |
| 4 | پوهنمل دوکتور محمد اغا ضیا | د کرنیز اقتصاد پوهنځي استاد | د بورډ غړی | 0704302328 | Sadat_logar@yahoo.com |
| 5 | پوهنمل دوکتور حکمت الله عبید | د اګرانومي څانګې آمر | د بورډ منشی | 0700326388 | h.obaid@anastu.edu.af |
| 6 | پوهنمل وکیل احمد سیرت | فوق لیسانس آمر | د بورډ غړی | 0707434399 | w.seerat@anastu.edu.com |